# اولیور ټویسټ

## د چارلس ډکنس اثر

اولیور ټویسټ" نومې ناول په انګریزي ژبې ۱۸۳۸ م کې چاپ شو. د دې لیکوال چارلس ډکنس په ۱۸۱۲ م کی زیږېدلی او دا یې دوېم ناول و. د ده کیسې او ناولونه د ټولنې د اصلاح لپاره نوم لري. ډکنس خپل ماشومتوب په بی وزلی کی تېر کړې و او د ده پلار چې پورونه یې نشو ورکولې د خپلو اولادونو سره څو کاله په بندي خانې کی تېر کړل. هم دا وه چې ډکنس د غریبو خلکو د ژوند حالډېر ښه بیان کړی دی. هغه د ژورنالسټ په حیث د لندن د یو مجلې لپاره لیکنی هم وکړی او وروسته یې څو ناولونه نور هم ولیکل. " اولیور ټویسټ" د یو ماشوم کیسه ده چې د نولسمې پېړۍ په لندن کی بی سرنوشته ګرځي، د خیرات خورو او غلو لاس ته لوېږي او اخر یې قسمت بدلیږي.

## کیسه

دنولسمی پیړۍ دانګلستان په ساحلي ښارونو کی د سمندري بېړیو د جوړلو کارخانې لرلې. دلته د مزدورانو لپاره استوګن ځایونه او د دوي د کورنیو لپاره لېلیې وې. په دی لیلیو کی د اوسېدونکو د خوړ سېګړی لپاره د کلیسا له خوا مرسته کېده. [illegible] لیلیو ته [illegible] هم [illegible] ېده . یوځل چا یوهمېرمنبه چې ماشوم یې په ګېډه و، په خوار حال یوې لیلیې ته راوستله. پخوا له دی چې یو چا له هغې د کور او د کلي پوښتنه کړی وې، د شپې یې ماشوم وزېږېدو. د کلیسا یو طبیب ورته راوستل شو او هغه چې د ماشوم حال ولیدو نو وې ویل چې دا ساه نه اخلي .

هغې نرسی چې د طبیب سره یې د مور او ماشوم ساتنه کوله ، تری پوښتنه وکړه چې اوس څه وکړي. طبیب ورته یو شین بوتل کی دارو ورکړل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیبه شیبه وروسته یې د ماشوم خلې ته وروڅښوي، ګوندی که دی د ساه اخستو جوګه شي. بیا یې وویل چې د ماشوم پر ځای ښځې ته دی پام وکړي او که دا په هوش کی شوه نو د کورنۍ په اړه یې معلومات وکړي. د ښځې په لاس د واده ګوته نه وه او طبیب هڅ ووهلو چې هغې به یو چا سره نامشروع اړیکې ساتلې وي او بیا یې پرېښوده.

طبیب ډوډۍ ته ولاړو نو نرسه د هغې ښځی سره کښیناسته او ماشوم ته یې ګرمې جامې وروا غوستې بیا یې هغه ته د دارو ورکولپېل کړل. دا چې ماشوم د شته منې کور و او که د یو بې وزله سړي زوی و، د نرسی لپاره مهمه نه وه. د هغې دنده د ماشوم او د هغه د مور ژوند ژغورل و. هر څو شیبو کی به هغې مور ته هم وکتل چې شیبره تبه یې وه. نرسی په یوې دوسیې کی د ماشوم نوم اولیور ټویسټ او د ولدیت په خانه کی یې ولیکل، " یتیم " څو ساعته وروسته هغه ښځه مړه شوه خو ماشوم یې ژوندی پاته شو. د لیلیې یو همېرمنېه چې خپل اولادونه یې هم لرل د اولیورسرپرسته وټاکل شوه. هغی ماشوم په کمبل کی تاو کړو او کله چې به یې ژړل نو پۍ به یې ورله ورکړل. یو څو کسانو پکی داو طلب د یتیمانو او کونډو پوښتنه کوله او د دوي اړتیاوې به یې پورا کولې. خو د اولیور سره تر لسو میاشتو بی انصافي کېده. د هغه د برخې پۍ به نورو واخستل او ده به د ولوږې د لاسه تږوله ورځ ژړل. یو څو کسانو د ده د حالت په اړه کلیسا ته خبر ورکړو او دوي کسان ورواستول چې پلټنې وکړي. د لېلیې څو کسان وګوابنل شول او لږ وخت لپاره اولیور ته د خپلې برخې پورا پۍ ورکړې کېدل خو بیا هم هغه پخوانې حال شو، تر څوچې دی د دریو کالو شو او د لیلیې د نورو ماشومانو سره به ټوله ورځ په منډو و. د کلیسا مشرد ده په حالت خواشینې شو او یوه ورځ یېفېصله وکړه چې هغه دی څو میله لیرې حکومتي یتیم خانې ته ورواستول شي. هلته د ماشومانو پالونکیمېرمنې "مان" هوښیاره ښځه وه اوپوهېده چې ماشومانو ته کوم خواړه پکار ول. د یتیم خانی مشری ته د هر ماشوم لپاره ټاکلپېسې ورکړل کېدې چې زیاته

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه به هغې خپل جيب ته اچولو اومېرمنې مان ورته هيڅ نشو ويلې. د کليسا له خوا معاينه کوونکي چې به يتيم خانې ته ورغلل نو هغوي به د ماشومانو او د کوټو د صفاي جاج اخستو .د دې معاينې نه وړاندی د مشری په امرمېرمنې مان به ماشومان ولامبول او پاکې جامې به يې ورته په غاړه کړی، وېښته يې ږمنځ او نوکونه به يې پريکړي و. خو وروسته به بيا بد حال و. کله کله به يو طبيب د ماشومانو روغتياي معاينې ته ولاړو نوپام به يې شوچې ماشومان خوار زواکي و. هغه به مشری ته گواښ وکړو نو دې به څو ورځې ماشومانو ته ښه خواړه ورکړل خو بيا به هم هغه حال و.

تر نهو کالو اوليور ټويسټ په دی ليليه کی لوېدو خو نه يې د پلار درک معلوم شو او نه څوک د ده د مور له نوم خبر و. دی اوس نور په ليليه کی نشو پاته کېدې اود کليسا يو چارواکي ښاغلي " بمبل" امر وکړو چې دی به په کارخانه کی د خپل عمر د نورو ماشومانوپه څيرکار زده کړي.مېرمنې مان، اوليور راوبللو او ورته يې وويل چې ښاغلي بمبل ته سر ټيټ کړي. بمبل تری وپوښتل چې ما سره ځې نو اوليور ژر د هو لپاره سر وخوځوو خو بيا يېمېرمنې مان ته وکتل او پوښتنه يې وکړه چې ادی به راسره وي که نه؟ بمبل ورته وويل چې هغه نه شوه تلې خو وروسته به يې ليدو ته راځي.

ميرمن مان د ده مخ لاسونه ووينځل او د تلو پر وخت يې څو څو واری ښکل کړو. په يوه غوټه کی لږه اوچه ډوډۍ او څه کوچ ورته ورکړل او بيا يې ورته نصيحت وکړو چې د مشرانو خبره دی مني . اوليور د بمبل سره روان شو نو سترگی يې له اوښکو ډکی شوې، سره له دی چې هغه دمېرمنې مان له خلې چرته د مينې خبره نه وهاورېدلی خو اوس له يتيم خانې چې روان و نو خپلو ملگرو پسې خفه و. نيم ساعت مزل نه وروسته دوي يوې ودانۍ ته ورسېدل او اوليور يې يوځای کېنولو. هغه له خپلې غوټې نيمه ډوډۍ او کوچ خوړلي او ستړی و نوغونډ مونډ هم هلته پر زمکه ويده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده په سره چا یوه لښته راخلاصه کړه نو دی راویښ شو. د بمبل په بله لښته چې  د ده ملا ته یې ټکان ورکړو، دی نېغ ودریدو . اخوا دېخوا یې کتل چې څه ووشو.  بمبل دی یوې لوې او سپینې کوټې ته بوتلو. هلته اته لس چاغ سړی د یو میز چاپېره ناست و.  د میز په یو سر په یوې لوړې چوکی یو غټ سړې چې مخ یې ګول و ناست و.  بمبل ورته وویل، سر ټیټ کړه نو اولیور هم هغسی وکړل.  یو کس تری وپوښتل، ستا نوم څه دی.  اولیور د دومره سړو په لیدو سخت وارخطا و خو بمبل ورته په ملا یو سخت ګوزار ورکړو نو ده په چیغه وویل اولیور.

چاغ. ای هلکه. خبر یې چې ته یو یتیم یې؟

اولیور. هغه څه وي؟

یو سړی. دا بی عقل دی. هلکه، ته نه مور لری او نه پلار. ستا پالنه د کلیسا له خوا شوی ده.

اولیور. ( په ژړا) او زه خبر یم.

چاغ. نو ته اوس ژاړی ولې؟   ته د شپې عبادت کوی او  هغو خلکواو کلیسا ته دعا کوی چې ستا پالنه یې کړی ده؟

اولیور.  دعا!!!عبادت!!!  هو ،،،هو،،،هو صېب.

سړی ...ښه نو اوس ته یې دلته راوستی چې انسان درنه جوړ شي او کسب هم ورسره زده کړی.  سبا سهار له شپږو بجو به ته د پړو ( رسیو) لپاره  د سڼو نه تارونه بیلوې.

اولیور هیڅ خبر نه و چې سڼ څه وي او له هغې څنګه تارونه بیلیږي. هغه په دی هم خبر نه و چې عبادت  څه وي او کلیسا ته څوک څنګه دعا کوي. بمبل رخصت شو او یو بل سړي دی په منډه یو لوې تالار ته راوستو چې بی شمیره هلکان پکی په کار بوخت و. اولیور د یو  هلک نه د تارونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلولو چل زده کړو او په کار لګیا شو. یوه بله کوټه چې د پخلنځي په سر کې جوړه وه د لرګي اوږدی چوکۍ پکی ایښې وې . هر یو هلک خپله د میسو کاسه او کاشوغه لرله. د ډوډۍ پر وخت دوي به وار په وار یو باورچې ( اشپز) ، چې دوه چاغیمېرمنې به ورسره مرستی ته ولاړی وې، مخې ته ودرېدل چې ددوي په کاسو کی به یې اوګره ( دلیه) یا ښوروا اړوله. نه دا کاسی او نه قاشوغی وینځل کېدې. هلکانوله دې کاسو هر څه چې وخوړل نو په ګوتو به یې وڅټل او بیا به یې قاشوغه دومره تاو کړه چې هغه کاسه به پرې پاکه شوه. کله د ډوډۍ یوه یوه ټوټه د دوي برخه وه خو د اولیور په شان د وړو هلکانو نه به دا ډوډۍ لویو هلکانو وتښتوله نو دوي به اوږي پاته شول.

دری میاشتې نه وې تېرې چې د ولوږې د لاسه اولیورکمزورې شو . اخر یو هلک چې پلار یې دکان لرلو، ټولو ته وویل چې که د دوي د ډوډۍ برخه زیاته نشوه نو یوه شپه به ویدو کی تر ټولو کمزورې هلک وخوري. په دی خبره ټول ووېرېدل او هلکانو پخپلو کی فېصله وکړه چې په بله ورځ به د باورچي نه د نورې ډوډۍ غوښتنه وکړی. تر ډېره وخته دوي یو بل ته وویل چې ته به مشر ته وواي، بل به وویل، چې ته ورته ووایه، ځکه ټول د چاغ باورچي اود ده دوو مرستیالانومېرمنېو نه وېرېدل . اخر اولیور ته وویل شول چې سبا د ډوډۍ پر وخت به دی له باورچې نوره ډوډۍ وغواړي.

په بل ماښام هلکان ډوډۍ ته کښیناستل او یو یو به باورچي ته تلو او اوګره به یې رااخیسته. په څو شېبو کی هر چا خپله کاسه تشه کړه نو هلکانو اولیور ته وکتل. د ده سره جوخت ناست هلک ورته په پوښتۍ کی څنګل ورخښ کړل او مخامخ ناست ورته سترګی برندی کړی. اولیور ورو غوندی له خپل ځاې راپاسېدو او د تشي کاسی سره د باورچي په لور روان شو. د لوې دېګ مخی ته ودرېدو او باورچي ته یې په کمزوري غږ وویل، محترم ، زه نه یم موړشوې، لږه نوره ډوډۍ راکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

باورچي ښه تکړه سړی و خو د دې خبرې په اورېدو رنګ يې ژېړ شو. ده هک پک ماشوم ته کتل چې د خپلې کاسې سره ورته ولاړ و.د ده مرستيالپېرمنېي لکه چې فالج وهلی وی اوژبې يې بندی شوې . باورچي وويل، څه...دی وويل... اوليور خپله خبره تکرار کړه. باورچي سمسئ راواخسته او د اوليور سر ته يې ونيوله خو د وهلو پر ځای يې دې له ليچو ونيولو او يوه زوره وره کريکه يې ووهله چې په اورېدو يې هلکانو غوږونو ته ګوتې يوړی.

د کارخانې د چارواکو د بورډ غړي د ميز چاپيره ناست و چې ښاغلی بمبل وارخطا دننه ورغلو او ناستو کسانو ته يې وويل، زهډېر معذرت غواړم ښاغليو چې اوليور د نوري ډوډۍ غوښتنه وکړه. ټول سړي د دې خبرې په اورېدو هېښ شول او يو تن وويل، دا د نه منلو خبره ده ، چې ماشوم خپله ډوډۍ وخوړه او بيا يې نوره وغوښته. بمبل وويل، صيب هم داسی ده . يو بل کس چې سپين واسکټ يې اغوستی و، وويل، دا هلک به يوه ورځ غرغره شي. ورپسې يو اوږد بحث ووشو او په پايله کی اوليور کوټه قلفي کړی شو.

په بله ورځ د کارخانې په لويه دروازه د مشر له خوا په کاغذ ليکلې امر سلېخ کړی شو چې که هر څوک د اوليور ټويسټ نومې هلک له کليسا نه اوړل غواړي نو هغه ته به پينځه پونډه انعام ورکول کيږي.

اوليور په تياره کوټه کی ټوله ورځ په ژړا تېره کړه او د شپې يو ديوال سره يې سر ولګوو او ويده شو. په بل سهار دی له کوټې وويستل شو او په انګڼ کی لګېدلې د يخو اوبو پمپ ته يې بوتلو چې مخ لاسونه ووينځي. ښاغلې بمبل د ده په سر ولاړ و او ستغې سپورې يې ورته ويلې. بيا د ډوډۍ خونې ته يې بوتلو او د ټولو هلکانو په وړاندی يې په لښته ووهلو چې نور ترې عبرت واخلي. د يو څه خواړو وروسته دی بيا په کوټه کی بند کړی شو او يوه اوونۍ هم دغسی تېره شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دی ښار کی یو بخاري پاکونکی هم اوسېدو چې هره ورځ د کارخانې مخې نه به تېرېدو راتېرېدو. ده په دروازه لیکلې اعلان ولوستو چې د اولیور نومې هلک په اړه و، خو ورسره د پینځو پونډو ورکړه د ده خوښه شوه. دی پور اوړی و اوپېسو ته یې اړتیا وه. ده خپل خرګاډې یوی خوا ته ودروو او خر یې په لښته ښه ووهلو. دروازی سره د بورډهغه غړی ولاړ و چې سپین واسکټ یې اغوستی و. ده د خر حال ولیدو نو وموسیدو چې د اولیور لپاره هم دغسی یو کس پکار و. کله چې بخاري پاکونکي د هلک په اړه وپوښتل نو ده دننه بوتلو. د بورډ غړو فېصله وکړه چې اولیور به هغه ته وسپاري خو د پینځو پونډو پر ځای یې ورته درې نیمو پونډو ورکولو ته غاړه کېښوده.

د اولیور د کوټې دروازه خلاصه شوه او ده ته د مخ لاس وینځلو وروسته یو پاک کمیس ورکړی شو. بیا د ده مخی ته د اوګرې ډکه کاسه او پورا ډوډۍ کیښودل شول چې وې خوري. د اولیور په سترګو کی اوښکې راغلې ځکه ده فکر وکړو چې د خواړو وروسته به دی غرغره کړی شي. هغه داسی اورېدلي و چې کله یو بندي غرغره کیږي نو هغه ته په وروستي ځلېږ ښه خواړه ورکوي. ښاغلي بمبل ورته وویل ، بس اوس سترګې ځان له مه سری کوه او ډوډۍ وخوره، ته به د کسب د زدکړی لپاره شاګردي کوې. اولیورد دی خبری په اورېدوحیرانه پاته شو.

له ډوډۍ وروسته بمبل او اولیور د یو قاضي مخی ته ورغلل او په لاره بمبل ورته وویل چې دی هڅه وکړي چې خوشاله ښکاره شي او کله چې قاضي تری پوښتنه وکړي چې ایا دی د بخاري والا شاګردی ته غاړه اږدي نو ورته "آو" وواي. دوي یوی لوې ودانۍ ته ولاړل او اولیور یې هلته په یوی کرسۍ ځان له کېنولو. نیم ساعت وروسته بمبل دی یو لوی تالار ته بوتلو چې د شیشې کړکۍ یې لرلې. هلتهډېرې چوکۍ وې او په یو لوړ ځای کی دوه سپین ږیري ناست و چې په وېښتو یې سپینه دوړه غوندې پرته ښکاریده. یو سړي اخبار ولوستو او د بل مخی ته یو ژیړ کاغذ پروت

(c) ketabton.com: The Digital Library

و چې عینکې په سترګو یې ولوستلو. ده سر راپورته کړو او اولیور ته یې وکتل. بیا یې پوښتنه وکړه، دا هغه هلک دی؟ بمبل وویل، هو هم دغه دی، هغه اولیور ته وویل چې سړي ته دی سر ټیټ کړي نو ده هم هغسی وکړل.

قاضي. داسی ښکاري چې هلک د بخاريو پاکولو سره علاقه لري.

بمبل . دومره یې خوښیږي چې حد نه لري. که مونږ سبا یو بل کسب ته کېنولو نو دی به تری وتښتي.

قاضي. دا بل کس چې هلته ناست دی، لکه چې د ده استاد دې؟

بمبل. هو صيب، دی بخاري پاکوونکی دی.

قاضي. ګوره خانه. دا ماشوم ستا پرغاړه دی او باید ته ورله ښه ډوډۍ او جامې ورکړې.

سړې. زه به یې د خر په شان ساتم...زما مطلب دی ښه ډوډۍ به ورله ورکووم.

قاضي. ته راته ناولوستې او کلي وال ښکارې خو ایمانداره هم یې.

سړی. زه هیله لرم چې داسی ووسم.

قاضي. زه د هلک نه یو څو پوښتنې لرم. ماشومه، ته ولې داسی ژیړاو کمزورې ښکارې؟ څه چل دی، ته خو ژاړی. ما ته ووایه او وېرېږه مه.

اولیور. (په ژړا) ما بیا هغه توری کوټې ته مه بیایئ. مړ می کړئ خو زه بیا هغه کوټې ته نه ځم.

بمبل. محترم دا ټول یتیمان خو تاسو پیژنئ چې څومره مکر کوي. دوي د ډب دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضي. ته غلې شه او تر څو چې ما نه وي ويلي ، هيڅوک به خبره نه کوي. دا ماشوم په بد حال دې. رنګ يې زيړ دې او خوشاله نه ښکاري. نو په دی اساس مونږ د ده د شاګردئ اسناد ردوو. مونږ دی بخاري پاکونکي ته نشو ورکولی.

بمبل. محترم قاضيانو، ستاسو فيصلی ته درناوی کوو. اوس امر وکړئ چې په دی هلک څه وکړو.

قاضي. بيرته يې کارخانی ته يوسئ ، ښه خواړه ورله ورکړئ او ښه چلند ورسره وکړئ.

خو په بله ورځ د کارخانې په دروازه هغه اعلان بيا خلکو ولوستو چې يو ماشوم که هر څوک غواړي د پينځو پونډو سره يې اوړی شي.

د بورډ غړو دا فيصله وکړه چې اوليور دی په يوی وړی تجارتي بېړئ کی په کار وګومارول شي. د دې لپاره يې بمبل ته وويل چې په بندرکی دی پوښتنی ګرويږنې وکړي. بمبل يو مړي خښښونکې پيژندلو چې "سوربري" نوميدو. هغه ته يې د اوليور خبره وکړه خوسوربري وويل چې پينځه پونډهډيرې پيسې نه وې او داسی هلک چې څه کسب يې نه و زده، د ده لپاره بيکاره و. خو بمبل ورته وويل چې هلک به ورته ګټه ور تمام شي. اخر سوربري ورته غاړه کيښوده او بمبل هغه د بورډ غړو ته بوتلو.

په هغه ماښام اوليور بيا له کوټې وويستل شو او بمبل له ځانه سره بوتلو. د سوربري د کار ځای ته له تلو وړاندې چې بمبل د هغه مخ ته وکتل نو اوښکې پرې روانی وې. بمبل ورته وويل چې ده سخته ناشکري کوله چې د نورو هلکانو په پرتله د يو نوی کسب زدکړی ته روان و. ده ته يې وويل چې نور به دی د سوربري شاګرد وي او که د هغه خبره يې وونه منله نو په سمندري بېړئ کی به يې ليرې وطن ته ورواستوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوربری د خپل کور دروازی اوکړکۍ تړلې وې او په یو کاغذ یې څه لیکل. د بمبل په لیدو یې دوسیه بنده کړه او اولیور ته یې وکتل. بیا یې خپلی مېرمنی ته ناره کړه. یوه نرۍ نروچکې ښځه راښکاره شوه نو سوربري ورته وویل، داهغه هلک دی چې ما درته ویلي و. ښځې په حیرانتیا وویل، دی خوډېر وړوکی دی. خو مېړه یې وویل چې دی به ژر لوی شي. ښځې هغه د کوټې په بل سر کی یوې دروازی ته ورټېله کړو چې دوه دری پوړۍ ښکته یوې کوټې ته وتلی وه. په دی کوټه کی د اولیور نه لږه لویه یوه جینۍ ناسته وه. ښځې ورته د بره نه د شارلټ نوم واخیستو او وی ویل چې د پاتې غوښی نه یو څه دی هلک ته ورکړي. اولیور دومره نهری تېری کړی وې چې د خواړو په لیدو یې بل خوا نه کتل او په یوه شېبه کی یې د غوښی قاب تش کړو.

د سوربري مېرمنې ورته وویل چې دی به د شپې په لوی کوټې کی د یوې تختې لاندی ویده کیږي او ډیوه یې ورته په لاس کی ورکړه. دا لویه کوټه د ښاغلي سوربري د کار ځاې و او پکی یوې خوا ته د لرګي تابوتونه ایښي و. په ځینو تابوتونو کی مړی هم پراته و. اولیور ډیوه په یو میز کېښوده او د دې په تته رڼا کی یې چار چاپېره ولیدل. په کوټه کی د مړو بوي خپور و او د اولیور توشک چې په کومه تخته هوار کړی شوی و، هغه ورته د قبر په شان ایسېده. خو دی دومره ستړی و چې هیڅ یې وونه ویل او پخپل ځاې پرېوتو.

په بل سهار یو چا د هغه کوټې بهرنۍ دروازه په زوره زوره ډبوله او اولیور د دې د غږ سره راپاسېدو. ده ژر ورته تمبه پرانسته نو وی لیدل چې یو لوې هلک ورته ولاړ و. دی د سوربري مشر شاګرد و او اولیور ته یې وویل چې له نن نه به د هغه هره خبره مني. بیا یې ده ته یوه لته راخلاصه کړه او د کړکیو د پرانستو امر یې وکړو. اولیور ژر ټولې کړکۍ پرانستې نو د سوربري مېرمنې ورته ناره کړه. دی او هغه لوې هلک چې نوح نومیدو دننه ورغلل. شارلټ بخاري بله کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه او نوح ته يې وويل چې  د ده لپاره  يې د سوربري د نارۍ نه د غوښې يوه ټوټه ساتلې وه.  بيا يې اوليورته وويل، ته دا سړه ډوډۍ واخله، ورشه په هغه صندوق کېنه او د چايو سره يې وخوره.

هم دغسې درې مياشتې واوختې نو يوه ورځ ښاغلي سوربري د خپلې مېرمنې نه پوښتنه وکړه، څه فکر کوې اوليور اوس د ځانه سره د مړو په کاروبار کې واچوم.  دې کولې شي چې د ماشومانو مړي ولمبوي. هغې ورته خپله خوښي څرګنده کړه.  په هغه ورځ بمبل راغې او د يوې ښځې د مړي او جنازې د انتظام لپاره يي ورته وويل. اوليور د بمبل په راتلو دومره ووېرېدو چې ځان يې ورک کړو.  خو دې په قهر و، اوليور ته يې هيڅ وونه کتل او له هغه ځايه ووتلو.  سوربري، اوليور د ځانه سره کړو او دواړه د ښار هغې برخې ته ورغلل چې کوڅې پکې تنګې او کورونه يې واړه و. دوي د يو کور مخې ته  ودرېدل او دروازه يې وډبوله نو د ديارلسو څوارلسو کالو يوې جينۍ ور پرانستو.  دننه په کوټه کې اورنه و بل، خو يو سړې د بخارۍ مخې ته او د کوټې بل سر کې يوه بوډۍ ښځه د څو ماشومانوسره ناست و.  د دې کوټې نه وراخوا له دروازې بلې خوا ته بله کوټه وه چې په فرش يې يو وجود د کمبلې لاندې ايښي و.  اوليور پوهه شو چې د کمبل لاندې مړې پروت و نو له وېرې ورېږدېدو او د خپل بادار سره جوخت ودريدو. سور بري د مړي لورته ګام واخستو نو د بخاري سره ناست سړي په زوره ووېل، " که خپل خېر غواړې نو مه ورنږدې کېږه"

سور بري د داسې حالاتو سره بلد او د سړي خبره يې له پامه وغورځوله.  دې چې مړي ته نږدې شو نو سړي بيا وويل، ته دا په خاورو کې نشې خښولې.  په دې کې هيڅ نه دي پاتې.  د قبر چينجي به ورباندې ماړه نشي.  سوربري د خپل جيب نه د کچ کولو فيته راوويستله او د مړي سره جوخت کېناستو.  هغه سړې راغې او وې ويل، دا ولوږې ووژله، د دې تبه وه خو نه يې اور لرلو او نه رڼا.  دا په تياره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی له مونږه ولاړه، د خپلو ماشومانو خبرې يې نه ليدلې خو د دوي نومونه يې يادول. ما په کوڅو کی د دې ماشومانولپاره خير غوښتو خو خلکو زه بندي خانې ته ورواستولم. زه چې بيرته راغلم نو د دې ځنکدن و. دا د ولوږې د لاسه مړه شوه.

هغه سړې په چيغو چيغوژړل، پر زمکه ورغړيدو او له خلې يې ځګ راوتلو. په دی وخت کی ماشومانو هم ژړاپېل کړه خو زړې ښځې غلی کړل. بيا دا ولاړه او په زمکه پروت سړی يې راپورته کړو او سوربري ته يې وويل، " دا زما د لور مړی دی. وګوره، ما دا زېږولې وه او زه تر اوسه ژوندئ ګرځم، خو دا مړه ده. د خدای کارونه وګوره، ژوند داسی دی لکه يوه ډرامه. يوه ډېره ښه الميه ډرامه. ښځې په زوره وخاندل او سور بري ته يې وويل، شش...شش... صبر وکړه. دا به نن شپه خښوې او که سبا... يا بل سبا....ته خبر يې چې زه به د دې جنازې سره ورځم. ما ته يو لويه او ګرمه چپنه راوړئ. د دی د رخصتولو نه وړاندی ښه کيکونه او شراب راوړئ. ښه زه که کيکونه نه وي، يوه اوچه ډوډئ او يوه کاسه اوبه راوړئ. بيا يې سور بري د لستونې نه ونيولو او وې ويل، مونږ ډوډئ وخورو؟ هغه تری راپاسېدو او وې ويل، هو، هر څه چې مو خوښه وي وکړئ. اوليور يې د لاسه ونيولو او له کوره بهر ووتلو.

د مړو لمبولو او د جنازو د تيارولو په کار کی اوليور د شاګرد په توګه يوه مياشت تېره کړه نو ښاغلي سوربري تری هيله پيدا شوه. په ښار کی د شري وبا ګډه وه اوډېر خلک او په تېره ماشومان پری لوې شمير کی مړه کېدل. د سوربري کاروبار ښه روان و او اوليور اوس د مړو د خپلوانو ژړا ته به دومره نه خفه کېدو. ده د مرګ او ژوند تر منځ د انسانانو خوي خصلت ووپېژندلو. د يوی شته منې مېرمنې يا سړي د جنازې پر وخت د ده اولادونو او يا نږدې خپلوانو د خلکو په وړاندی چې به څومره واوېلا جوړه کړی وه، وروسته پخپلو کی سره کېناستل نو دومره به خوشاله و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ژړا ورته یوه ډرامه ښکارېده. کونډو به د مېړه په جنازه ځان داسی جوړ کړی و لکه چې واده ته رواني وي.

خو اولیور تر څو میاشتو د نوح له بد چلند سره لاس او ګرېوان و. د هغه له کبله، شارلټ به هم ورسره بده وضع ساتله او د مېرمن سوربري خو اولیور سخت بدي شو ځکه ښاغلي سوربري د ده د کار صیفت کوو. یو ماښام اولیور او نوح د ډوډۍ لپاره په میز ناست و او د دوي تر منځ د غوښې یوه لویه ټوټه د خواړو لپاره ایښې وه. نوح د دې زیاته برخه وخوړه او په خبرو کی اولیور ته یې بد رد ویل چې دې وژاړي. خو اولیور په صبر د ده خبری اورېدې. اخر نوح ورته وویل، "ستا مور څنګه ده؟" اولیور وویل، "هغه مړه ده او ما نه نوری پوښتنې ونکړې." د ده په سترګو کی اوښکې وې. نوح یوه سندره زمزمه کړه او بیا یې وویل، "هغه څنګه مړه شوه؟" اولیور وویل، "د زړه د لاسه او نور رانه مه پوښته." نوح وخاندل. "مور دی لکه چې بل مېړه غوښتو."

د اولیور مخ سور شو، راپاڅېدو، کرسۍ له یې یوه لته ورکړه او نوح سره ونښتو. ده ته یې په خېټه کی دومره په زوره لتې ورکولې چې دی رانسکور او شارلټ ته یې چیغی وهلې چې اولیور یې وژني. هغه په منډه راغله او پخپل پورا زور یې اولیور له نوح لیري کوو. ورسره یې ښکنځلی هم کولې خو دوي یې نشو خلاصولې. مېرمن سوربري چې چیغی واورېدې نو هغه هم رادننه شوه. د شارلټ په مرسته یې اولیور د نوح له مرۍ نه بیل کړو. په راښکلو یې ګودام ته بوتلو او ور یې کلک کړو. مېرمن سوربري په چیغو اولیور ته بد رد ویل او کله چې شارلټ ورله اوبه ورکړی نو شکر یې وویستو چې نوح ژوندی و. شارلټ وویل، شکر وباسه چې مونږ ټول ژوندي یو. مېرمن سوربري وویل، زما میره داسی د لارو کوڅو هلکان چې راولي نو هم دا حال به وي. خو اوس څه وکړو، سړی په کور کی نشته او دا وحشي به په لتو د ګودام دروازه ماته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شارلټ وویل، "پولیس به راوغواړو." خومېرمن سوربري وویل، "نه ...نه...نوح ته په منده ورشه اوښاغلي بمبل ته خبر ورکړه. ورته وایه سمدلاسه راشه." نوح د ویښتو په سمولو د کارخانې په لوري روان شو.
هلته بمبل د ده په لیدو پوښتنه وکړه نو نوح په ژړا ورته وویل چې اولیورد ده د وژلو هڅه کړی وه. په دی وخت کی په سپین واسکټ کی هغه سړی راښکاره شو چې د اولیور په اړه یې ویل ، دی به یوه ورځ غرغره کیږي.
بمبل ورته وویل، ستا وړاندوینه په ریښتیا کېدو ده، نن اولیورد دې هلک او د یوې جینې د وژلو هڅه کړی ده. نوح ورزیاته کړه او د یوی مېرمنې هم. سړي وپوښتل، ستا بادار څه شو. نوح وویل، هغه له نیکه مرغه بهر دی که نه اولیور ویل چې سوربري به هم وژني.

په سپین واسکټ کی سړی موسکی شو، نوح ته یې یوه سیکه په لاس کیښوده او وې ویل، تهډېر ښه هلک یې. بیا یې بمبل ته یوه شنه لښته په لاس کی ورکړه او وې ویل، ورشه ، هر څومره چې دې وس رسیږي، وې وهه. که سوربري راغلو نو هغه ته هم ووایه چې هلک دی وډبوي.
اولیور د گودام په دروازه لتی وهلې خو سوربري تر هغې نه و راغلی.
بمبل د هغه مېرمنې ته وویل، دا د غوښې زور دی. تاسو دی هلک ته ولې دومره غوښه ورکوئ چې اوس د غويي په شان پړې یې شلولې دي.
په دی وخت کی ښاغلې سوربري هم کور ته راغلو او د دې جنگ ټوله کیسه یې واوریده. هغه دوي ارام کړل، د گودام ور یې پرانستو او اولیور یې رابهر کړو.

مېرمن سوربري. د ده علاج دا دی چې یوه ورځ یې په تیاره کوټه کی بند کړو او ډوډۍ ورله ورنکړو ، پخپله به سم شي.

سوربري. بس دی اولیور. ته ښه هلک یې. ته ولی وهل ټکول کوې.

اولیور. ده ما ته د مور ښکنځله وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمن. نو څه چل ووشو؟ اې نمک حرامه. ستا مور ته باید ښکنځل ووشي. هغه د دې وړ ده.

اولیور. نه ...هغه د دې وړ نه ده. دا دروغ دي.

میرمن. ( په ژړا) اې سرېه ...زړه دې یخ شو چې دی دوه لویشتي هلک زما سپکاوې وکړو. ستا دی خداې خانه خرابه کړي.

دمېرمن سوربري اوښکې د هغې د میره لپاره د زغملو نه وې او هغه اولیور پخپل دفتر کی بند کړو. کله چې اولیور ځان له شو نو د ټولو خبرو په اړه یې چرت ووهلو. بیا په زمکه پرېوتو او په چیغو چیغو یې وژړل. دیډېر وخت هم هغسې پروت و. په طاقچه کی ډیوه بله وه او د دی په تته رڼا کی یې چاپیره کتل او غوږ یې نیولې و. کله چې ټول ویده او غږونه غلي شول نو ده کړکۍ خلاصه کړه او بهر یې وکتل. شپه تیاره او یخه وه او په اسمان کی یو ستورې هم نه و. ده د بالښت په یو پوښ کی خپل څو شیان وتړل او دسهار په انتظار په یوې کرسۍ کېناستو. د سهار لومړۍ رڼا له کړکی تا وکړه نو دی راپاسېدو، بیا ورو غوندی یې د دروازې کونډه خلاصه کړه او بهر ووتلو.

اولیور د ښار سرهډېر بلد نه و خو لیدلي یې و چې د اسونو ګاډي کوم لوري ته زیات ورتلل. ده په هم هغه لار ګامونه اخستل. یوځاې دی په هغه کوڅه ورپېښ شو چې د یتیم خانی ودانی پکی جوړه وه. دی ورنږدې شو او له دیوال یې ولیدل چې ډیک په نوم یو ماشوم په وړوکي چمن کی ولاړ و. ده د خوښي احساس وکړو ځکه ده به ډیک سره لوبی کولی. د ده په لیدو ډیک رامنډه کړه او د لوې دروازې له سیخ یې ورته لاس وړاندی کړو. اولیور د ده لاس ونیولو او وې ویل، پام کوه چا ته وونه واې چې زه دی ولیدلم. ډیک ورته وویل، ډاکټر دوي ته ویلي دي چې زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور ژوندی نه پاتی کیږم.  خو ته زغله ...په لاره مه ودرېږه...اولیور د سیخونو نه وراخوا د ده په سر لاس راښکلو او تری روان شو.

د سهار اته بجې وې چې اولیور له ښاره بهر په لوی لاره روان شو.  کله نا کله ده د اسونو دربا  واوریده  نو د یوې ونې شا ته به پټ شو او د ګاډو یا د سپرو له تېرېدو وروسته به بیا روان شو خو تر هغی خبر نه و چې کومې خوا ته به ځي.  ده د بمبل او سوربري نه لیرې تلل غوښته.   یو ځای کی ده  د فاصلې تیږه  ولیده نو ورسره کېناستو.  په دی لیکلي و چې لندن اویا میله لیرې و.  ده د لندن په اړه  اورېدلي و چې لوې ښار و او خلک پکی ورکېدل.  هم هلته یې هوډ وکړو چې که دی لوی ښار ته ولاړو نو څوک به یې بیا نشي موندلی.  خو ده سره هیڅ هم نه و او دومره لوې مزل وهل ورته ګران کارښکارېدو.   د ده  په غوټه کی یوه اوچه ډوډۍ، یو کمیس  او دوه جوړه جرابی وې.  یوه وړه سکه هم ورسره وه چې سوربري ورته د یوې جنازې نه وروسته د انعام په توګه ورکړی وه.  خو د هغه د سفر لپاره دا بس نه و ځکه اوس ژمی و.

دی هم هغسی روان و او ټوله ورځ کی یې شل میله مزل ووهلو.  په لاره یې یو ځاې د کلې د یو کور نه اوبه وغوښتې او  هغه اوچه ډوډۍ یې ورسره وخوړه.  د شپې یو ځاې ویده شو خو سهار د یخ د لاسه یې لاسونه پښې شخ و.  په یو کلي کی یې د سکې په بدل کی توده ډوډۍ واخسته او دولس میله مزل یې کړی و چې شپه پری راغله.  د ده پښې پړسېدلې او دومره د کمزورۍ احساس یې کوو چې ودریدې نشو.  په بل سهار دی د ګرځېدو جوګه نه و او په ځکېدو یې ځان یوې تیږې ته ورسوو چې اس ګاډو تم ځاې و.  یوګاډې ودریدو او څو کسان تری راښکته شول. هغه کوچوان او ګاډي کی ناستو مساپرو ته زارۍ وکړې چې دی له ځانه سره کېنوي خو هیچا ورته پام ونکړو.  په لاره د ځینو کلیو په کوڅو کی په لویو تختو لیکلي و چې ګدا ګربه بندي خانه کی اچول کیږي.  اولیور په دی اعلانونو سخت په وېره و او هیچا ته یې لاس نشو غځولی.  دی په پټیو کی

(c) ketabton.com: The Digital Library

له سپو وېرېدو خو يو ځاې يو بزگر او بل ځاې يوه مېرمنه پرى مهربانه شول او د خواړو يې څه ورکړل .

په اوومه ورځ اوليور يو وړوکي ښاريې ته ورسېدو چې د كورونو كړكۍ پكى بندې وې. دى يو ځاې كېناستو خو دم پكى نه و. هلته ډېر سرايونه جوړ و او د سهار د پېل سره په لارو كى د خلكو گڼه شوه. د اوليور مخى نه يو هلک تېر شو چې د ده د عمر و. څو شيبې وروسته هغه هلک ورته ودرېدو چې د لويو سړو كوټ يې اغوستى و او پوښتنه يې وكړه چې دى له كومه راغلى و.

اوليور ورته وكتل او سترگى يې ډكى شوې، زه اوږې يم، د اوو ورځو راهيسې مزل كووم . هلک حېرانه پاتې شو خو ده ته يې لاس وروغځوو او له ځايه يې پورته كړو. بيا يې نږدې يو سراې ته بوتلو چې مخې ته يې سبا نارى شيان پخېدل. هغه له دى ځايه توده ډوډۍ او غوښه واخستل او بيا يې اوليور له ځانه سره د سراې شا ته بوتلو. هلته يې گرمې چاې راوغوښتې او دواړو پرى ځانونه ماړه كړل. هلک ترى پوښتنه وكړه نو اوليور وويل، دى لندن ته روان و خو هلته د اوسېدو ځاې هم نه لري او نه ورسره پېسې وې. ده له هلک وپوښتل نو هغه وويل، دى كله كله لندن كى اوسېږي. خو بيا يې اوليور ته وويل، ته نن شپه د اوسېدو ځاې ته اړتيا لرى. اوليور وويل چې اوو شپې كېږي د كور د چت لاندى يې خوب نه دى كړى. هلک ورته ډاډ وركړو چې لندن ته لږه لاره ده او دى نن لندن ته ورتلو او هلته د شپې ځاې هم لري. د يو شريف كس يادونه يې وكړه چې دى ورسره پاتې كېدې شي او هغه به ترى پېسې هم نه اخلي. اوليور ترى وپوښتل چې هغه سړى خو دى نه پيژني نو د شپې ځاې به څنگه ورته مفت وركوي. هلک وويل، د هغه لپاره دا بس دي چې زه به درسره يم، هغه سړى ما پيژني او زما ملگرى دى.

د دى هلک نومجېک و او د خپل ملگري په اړه يې وويل، چې سپين ږيرې دې او د ده په شان بى وزلو ماشومانو ته پېډېر پام كوو. اوليور دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترړې و چې دجېک په مشوره د سراې شا ته ویده شو ځکه هغه ورته وېلي و چې د شپې به ښار ته ورځي. د شپې یوولس بجې وې چې اولیور په لومړې ځل د لندن په ښار کې وردننه شو.

د لندن کوڅې تنګې او له مرداری ډکې وی او مږکان پکی لیدل کیده . اولیور پخپل ژوند کی دومرهډېر خلک په لارو کی نه و لیدلي چې جامی یې خیرنې اووېښته یې ببر و. د لاری دواړو غاړو ته واړه کورونه و چې زیاتو یې کړکۍ نه لرلې. د شراب خانو نه ښځې او سړي په شور او خندا راوتل او کله کله به پکی چا سوک څپیړې نه هم کار اخستو. د اولیور لپاره دا هر څه بوږنوونکي و او زړه یې کېدو چې وتښتي. خو په دی وخت کی هغه د جېک سره د یوی ودانۍ دروازی ته رسېدلی و. جېک د ده لاس ونیولو او دننه یې راښکلو، بیا ژر یې تمبه ځان پسې پوری کړه. دننه تکه توره تیاره وه خو یو سړی د پوړو د پاسه ډیوې سره راښکاره شو او له جېک یې وپوښتل. دا بل څوک درسره دی؟ جېک وویل دا زمونږ نوی ملګری دی. بیا یې د فیګن پوښتنه یې وکړه او هغه کس ورته وویل چې دی بره ناست و.
د اولیور یو لاس جېک نیولې و او په بل یې د پوړو سره جوخت د لرګي یوه ډنډه نیولې وه ځکه په ماتو پوړیو بره ختل ګران و. هلته جېک یوه بله دروازه پرانسته او اولیور یې پکی ورټیله کړو. د کوټې په بخاري کی اور بلېدو او په یو میز د شمع په رڼا کی یو سړي د کرغیړن مخ سره د دوي لوري ته کتل. په میز څو لوښو کی،غوښه ، ډوډۍ او کوچ و او چاپېره څلور پینځه هلکان ناست و. د کوټې یو سر کی په تناو وینځل شوی جامې ځړیدې. جېک د سړي په غوږ کی څه ویل چې په اورېدو هغه وموسېدو. جېک ورته وویل، دا فیګن دی اود ده نوم اولیور ټویست دې. فیګن وخاندل او یو هلک چې د تمبکو پایپ یې څکول، راپاسېدو او د اولیور سره یې روغبړ وکړ. فیګن ورته هر کلی وویل اوجېک ته یې اشاره وکړه چې خپل ملګري ته دی ښه ډوډۍ ورکړي. اولیور ښه په مړه ګېډه ډوډۍ وخوړه او په څو نرمو بوجیو په خواړه خوب ویده شو.
په بله ورځ چې اولیور راویښ شو نو په کوټه کی نورهلکان نه و او فیګن چاې پخولی. د اولیور سترګي لا پټې وې اوفیګن ده سره نږدې ودرېدو چې وګوري دې ویده و که ویښ. کله چې ډاډه شو چې اولیور ویده و نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوټې دروازه یې وتړله او په فرش لګیدلي د لرګي یوه تخته یې لیرې کړه. اولیور اوس له خپل ځای ورته کتل چې ده د فرش نه یوه وړوکې صندوق راوویستو او پر میز یې کېښودو. بیا پخپله په کرسی کېناستو او له صندوق یې د سرو زرو یوه لاسي ګړی راواخسته. په دی ښکلي غمي لګېدلي و او په لیدو یې فیګن وویل،ډېر ښه...دا سپي ډېر تکړه دي. هغه له صندوق وار په وار هم دغسی ښکلې ګړی، زنځیرونه، ګاڼې او نور شیان راویستل او په لیدو به یې خوشاله شو. بیا ناڅاپه هغه د اولیور لورته وکتل چې ویښ و. فیګن ژر صندوق بند کړو او په چیغه یې وویل، ته ولې راته ګوری. اولیور وارخطا وویل، ما هیڅ نه دي لیدلي. فیګن یو چاقو له جیبه راوویستو او پر میز یې خښ کړو.
د هغه په امر اولیور پاسېدو او له دروازې بهر یې د اوبو منګې ورته راوړو. تر هغی فیګن صندوق پټ کړی و. اولیور د منګي په اوبو مخ لاسونه ووینځل او اوبه یې له کړکۍ بهر په کوڅه کی وروغورځولی. د ډوډۍ خوړلو نه وروسته جېک د څو نورو هلکانو سره راښکاره شو او ټولو له جیبونو رومالونه راویستل. اولیور داسی وپوهیدو چې ګوندې فیګن هلکانو ته د رومالونو جوړولو چل ښودلو، خو ژر خبر شو چې هلکانود ښار په لارو کوڅو کی د سړو جیبونه وهل او هر څه به یې فیګن ته راوړل. د دې په بدل کی هغه ورله ډوډۍ او د اوسېدو ځای ورکړی و. اولیور نه غوښتل چې غلا وکړي خو دی د فیګن له خوا ځارل کیدو او په څو ورځو کی یې د نورو هلکانو نه د جیب وهلو چل زده کړو. دا یې هم زده کړل چې په کومو کوڅو کی ماړه خلک اوسېدل. هر ماښام به دوي په هغه لویه کوټه کی د ساعت تېري لپاره سندری ویلې چې د اولیور هم خوښیدې. کله کله نینسي نومې یوه جینۍ هم راتله چې د دوي په شان یتیمه او په یوې شراب خانې کی یې کارکوو.
یوه ورځ اولیور د دوو نورو هلکانو سره د کتابونو یو دکان ته ورغلو چې پکی یو سړي کتابونه کتل. یو هلک د هغه له جېبه رومال وویستلو او په منډه شو خو تر څو چې اولیور له دکانه وتلو، یو کس راګیرکړو او وی وهلو. خلک راټول شول او پولیس خبر شو. د اولیور کمیس شلیدلی او پر زمکه ژیړ زبېښلې پروت و. هغه کس چې جیب یې وهل شوی و، براون نومیدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پولیس. ښار له غلچکو ډک دی. دا هلک به زه تانړې ته بوځم. اې...څه نوم دی دې او چیرته اوسیږې؟
دکاندار. ودریږئ. صیب...زما خبره واورئ. دا هلک بی گناه دی.
پولیس.. ته څنگه خبر شوې؟
دکاندار. له ده سره دوه نور هلکان هم و او ما پخپلو سترگو ولیدل چې هغوي د دې شریف سړي جیب ووهلو او وتښتیدل.
براون. دا بیچاره هلک... څومره بد کار ووشو. اې ...یو اس گاډې ودروئ چې زه یې ډاکټر ته وښیم.
دکاندار. زه به درسره مرسته وکړم. پاسه ماشومه. راځه چې دا محترم درباندی مهربانه شو که نه اوس به په بندي خانه کی ناست وې.

اولیور په اس گاډي کی د لندن ښار یوی شنی برخی ته یوړل شو چې هلته سړکونه پراخ او کورونه یې لوی و. د ښاغلي براون په کور کی دی په یو ارام کټ سملول شو اوښه پالنه یې وشوه. خو د اولیورشیبره تبه وه او خلک یې نه پیژندل. تر څو ورځو دی به کله ویښ اوکله ویده و او دارو ورته په خله کی ورکول کیده. دی اوس نور هم ژیړ او کمزوري شوې واو یوه ورځ چې راپاسیدو نو په ریږدیدو یې ځان له کټ پورته کړو او اخوا دیخوا یې وکتل. یوه چاغه مهربانه میرمنه د ده کټ سره جوخته په کرسۍ ناسته وه. هغی ورته وویل، ارام وکړه او خبری مه کوه گني نو بیا به ناروغ شې، اوس لږ ښه شوی یې. اولیور د هغی خبره وومنله او بیا څملاستو. څو ساعته وروسته ډاکټر راغې، د ده تبه یې وکتله او هغې میرمني ته یې وویل چې اوس لږ نرم خواړه دې ماشوم ته ورکولې شي. په څو ورځو کی اولیور ښه شو نو هغې میرمنې د کړکی سره په یوې چوکۍ ورته د کیناستو وویل او ښه خواړه یې ورته راوړل.
اخوا جیک او نور هلکان چې فیگن مخی ته ورغلل نو ده تری د اولیور پوښتنه وکړه. یو هلک ورته د هغه د نیولو ټول حال تیر کړ او دا چې پولیسو به اولیور بندي خانې ته رسولې وي. په دی خبره فیگن سخت په قهر شو. په هغه ماښام دی یو شراب خانې ته ولاړو او هلته یې د خپلو دوو ملگرو سره خبره وکړه. فیگن اوس غوښتل چې په یو چل اولیور له بنده راوباسي. هغه نینسي ته دا دنده وسپارله او د یوې خدمت گاری په

(c) ketabton.com: The Digital Library

جامو کی یې بندي خانې ته ورواستوله. هلته ورته پولیسو وویل چې ماشوم خو براون نومی سړي له ځانه سره کور ته بوتلې و.
د براون په کور کی اولیور ډېر خوشاله وخت تېرووا‌و کله چې د گرځېدو جوگه شو نو نوي جامې یې ورته وگنډلې. په دی نویو جاموکی اولیور یو بدل کس ښکارېدو. ښاغلي براون ده سره په خپل کتابتون کی ولیدل او د ځو خبرو نه وروسته یې ورته وویل چې خپل ټول حال ورته ریښتیا ریښتیا ووایې. کله چې اولیور خپله کیسه پیل کړه او د بمبل د ظلم په اړه یې ویل نو هغه وخت د براون یو ملگری میلمه شو. براون ورته وویل چې تر ځو دی خپل ملگري سره لیدنه کوي بهر په باغ کی دي لوبې وکړي. د براون ملگري د اولیور په اړه هڅ ووهلو چې د نورو کوڅه ډب ماشومانو په څېر او بی اعتباره و. بیا یې شرط وتړلو چې اولیور دی یو کار پسی ورولیږي او وگوري چې په شلو دقیقو کی بیرته راځي او که نه. براون اولیور ته د کتابونو یوه غوټه او پینځه پونډه ورکړل چې د ده لپاره د کتابونو دکان ته یوسي او بیرته راشي.
اولیور پخپله لاره روان و چې نابېره یوې ځوانی جینې له څټ ونیولو او په چیغو شوه، زما ورور...هاې هاې...ورور مې بیا وموندلو. دا جینۍ نینسي وه چې له ډېره وخته د براون د کورنه بهر د اولیور په انتظار وه. اولیور که هر ځومره ورته وویل چې هغه د دې ورور نه و خو نینسي له ځان سره راښکلو. ځو لاروو ورته بد رد ویل چې د خپلې خور سره نه تلو. یوې ښځې ورته داسی ځوک ورکړو چې اولیور راپرېوتو. بیا نینسي په راښکلو راښکلو د شراب خانې شا ته په کوټه وردننه کړو. اولیور هلته د فیگن دوه ملگري ولیدل چې د نینسي سره یو بل کور ته تلو په اړه وغږېدل. د شپې اته بجې د ساعت د زنگ سره دوي له هغه ځاې ووتل اود یوکور دروازه یې وټکوله.
په ځو شیبو کی اولیور بیا د فیگن مخ ته ولاړ و او نور ماشومان تری چاپېره، د ده په نویو جامو ملنډې وهلې. فیگن د ده له لاسه کتابونه واخستل او له جیبه یې پینځه پونډه هم وویستل. نینسي پېسو ته لاس ونیولو او فیگن ته یې وویل چې د اولیور په راوړو کی ټوله خواري دې کړې وه.

په هغو ورځو کی ښاغلې بمبل د یو قانوني معاملې لپاره لندن ته ورواستول شو. ښار ته په رارسیدو هغه ورځپاڼه واخسته او د نورو خبرونو سره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو اعلان هم ولوستلو چې پينځه پونډه انعام يې سر ليک و. دا د يو هلک اوليور ټويسټ په اړه و چې د څو ورځو نه لا درکه و او ليکلي و چې که هر چا د ده خبر ورکړو نو دا انعام به يې ګټلو. بمبل څو وارې دا اعلان ولوستو او سمدلاسه هغه کور ته ورغلو چې پته يې په ورځپاڼې کې ليکلې وه. ده د ښاغلي براون سره وليدل نو هغه ترې د اوليور په اړه وپوښتل. بمبل وويل، دې خبر نه و خو دومره ويلې شي چې اوليور چالاکه هلک و او له خلکو يې غلا کوله. ښاغلي براون په دې خبره ډېر خفه شو او هغې خدمت ګارې ته چې د اوليور ساتنه کړې وه ټول حال وويلو. د خدمت ګارې بيا هم باور نه کېدو ځکه اوليور ورته ډېر مودب او نيک هلک ښکاريدو.

په بل سهار اوليور وليدل چې د بوټانو يوه جوړه د ده خوا کې ايښې وه او هغه نوي بوټان يې نه و. فيګن ورته ډوډۍ ورکړه اوټوله ورځ يې هم هغسې تېره کړه. ماښام هغه له کوره ووتلو او دروازه يې ورپسې وتړله. اوليور د ډيوې په رڼا کې يو کتاب په ولوستلو بوخت و چې د چا د پښو ښکالو يې واورېده. ده ډيوه پورته کړه چې وګوري څوک و، په دې کې د نينسي غږ يې واورېدو چې ډيوه ښکته کړه. نينسي په يوې کرسۍ کښېناسته او په ژړا يې وويل، خداې به ما چرې نه بخښي. خو زه خبره نه ووم .
اوليور ترې وپوښتل نو وې ويل، شابه ژر کوه، ته به ما سره ځې. اوليور وېرېدو، ته ما چرته بياې. هغې ورته وويل، زه ستا ژوند ژغورل غواړم. اوليور د نينسي پسې له کوره ووتلو او دواړه په تنګو او تيارو کوڅو کې روان شول.
له کورونو وراخوا د يو پله د پاسه دوو سړو د نينسي په ليدو وويل، مال دې راوړو. هغې وويل، هو... راسره دې. يو سړي له جيبه طماچه راويستله او اوليور ته يې وويل، خوزه مه که نه ډز به دربانديې وکړم.

اوليورته چې کوم سړي طماچه نيولې وه ، هغه " بيل سايکس" نوميدو او يو خطرناکه مجرم و چې پوليس ورپسې ګر ځيدو. اوليور له ده د تښتېدو هڅه وکړه چې پوليس خبرکړي خو دې بيرته ونيول شو او فيګن کور ته يې ورسوو. نينسي اوس د اوليور سره زړه سوي پيدا شوی وه او ورسره يې لوز وکړو چې هر وختې امکان و دا به يې له فيګن ژغوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي بمبل د هغه يتيم خانې د مشرې سره واده وکړو چې اوليور پکی لوې شوې و خو د دوي ژوند سخت تريخ و ځکه بمبل به تل د خپلی مېرمنې ستغې سپوری اوريدې. بمبل يوه ورځ دمېرمنې سره د جنگ نه وروسته شراب خانې ته ورغلو. هلته د"مونکس" نومی کس تری د اوليور په اړه پوښتنې وکړې. ده ورته وويل چې مېرمنه يې د يتيم خانې مشره وه او هغه د اوليور په اړه زيات معلومات ورکولی شي خو د دې کار لپاره به د سرو زرو پينځويشت سيکې تری اخلي. مونکس ورسره وومنل او ده بمبل ته وويل چې د شپې دی له مېرمنې سره يو ځاې راشي.

په ټاکلي ځاې کی د يتيم خانې مشرې د اوليور د مور د مړينې حال بيان کړو او دا چې د هغې د سرو زرو گوته او د غاړی لاکټ په مرستون کی تری نرسی ليرې کړي و او کله چې اوليور په يتيم خانې کی ورداخل کړی شو نو دا شيان هغې ته ور وسپارل شول. هغې مونکس ته دا دواړه ورښکاره کړل. په لاکټ کی دننه د سرو وېښتو يو څو تاره او وربانديې ايگنس نوم ليکلې و. مونکس ورته وويل چې دا دواړه دی په سيند کی وغورځوي او که چا ته يې د دې ټولی کيسې حال وويلو نو هم هغسی به يې سيند ته ورواچوي.

يوه ورځ بل سايکس اود ده ملگري د شپې اوليور د ښار بلی برخی کی د سيند غاړې ته بوتلو. په لاره اوليور چرت وهلو چې د خپل ژوند د ژغورلو لپاره پر زمکه پريوځي او تياره کی تری ورک شي. په لږ واټن کی يو کور و چې دېوالونه يې ړنگ او کړکيو نه يې رڼا نه راتله. يو سړي د کړکۍ تخته پورته کړه او دوي دری واړو دننه ټوپ کړل. هلته د دوي يو بل ملگرې ورته په انتظار و. دوي يو کور د غلا لپاره په نښه کړی و، او کله چې هلته ورسيدل نو اوليور يې له يوی سوړې نه وردننه کړو چې دروازه ورته پرانيزي. دی وردننه شو او په تياره کی يې دروازه پرانسته خو هم هغه وخت د کور خلک ويښ شول او يو څوکيدار پری د طماچې ډز وکړو. غله وتښتېدل خو له بده مرغه اوليور پر زمکه راپرېوتو او چې په کور کی رڼا گانی بلې شوې نو دې په ټپي حال کی په زمکه پروت و.

دا کور د يوې پيغلی روز په نوم و چې هغه پکی د خپلې سرپرستې مېرمن مايلي سره وسېده. دوي اوليور يوې کوټې ته بوتلو او د علاج لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې ورته ډاکټر راوغوښتو. ډاکټر د اولیور په پرهر پټۍ وتړله اومېرمن مایلي ته یې ډاډ ورکړو چې دی په خطر کی نه و. خو په بلی کوټې کی یې د روز او مایلي دواړو سره خبری وکړی.

ډاکټر. دا هلک تاسو د غلا پر وخت ونیولو او په ډزو ټپي شوی دی. زما مشوره دا ده چې سمدلاسه پولیس ته خبر ورکړئ.

روز. څوکیدار واي چې اصل غله خو تښتېدلي دي. ما ته خو دی غل نه ښکاري.

مایلي. دومره وړوکي عمر کی به څوک څه جرم وکړي؟

ډاکټر. تاسو د نړۍ د بدو خلکو نه خبر نه یئ. وګوره د ده جامې اوکړه وړه ټول د غلو دي.

مایلي. خو په جامو مونږ د چا په اړه هیڅ نشو وهلې. ما ته خو دی مجبور ښکاري، خدای خبر موراو پلار یې شته که نه. په کومو حالاتو کی دی د غلو سره مله شو.

ډاکټر. زما په فکر که ستاسو څوکیدار چې راته یو تکړه کس ښکاري، سهار له هلک پوښتنې او ګواښنه ورته وکړي چې که ریښتیا یې وونه ویل نو پولیسو ته به یې سپاري، نو هلک به سم حال ووای.

روز. زما په فکر دا هلک له غلو ژغورل پکار دي.

مایلي. زه هم داسی ګڼم چې دی ډېر وړوکې دې او دا زمونږ فرض دي چې د ماشوم ساتنه دی ووشي. ډاکټر صیب، تاسو هر څه چې مناسب ګڼئ وې کړئ. خو پولیسو ته اوس مه وایئ.

ډاکټر. زه به وګورم چې څه کول پکار دي.

میرمن مایلي به هره ورځ د اولیور د کټ سره ناسته وه او د ده د دارو درملو اود خواړو خیال یې پخپله ساتلو. دی په پاکو جامو او وینځلي مخ ورته ښه ښکارېدو. په څو ورځو کی اولیور د ګرځېدو جوګه شو او د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کیسي ډاکټر، روز اومېرمن مایلي خبر شول. هغه ورته د ښاغلي براون د کور کیسه هم وکړه چې له ده سره یې مهرباني کړی وه. ډاکټر یوه ورځ د ده په خواست هغه کور ته بوتلو خو خبر شول چې براون د خپل ملګري اود کور د خدمت ګارانو سره غرب الهند ( ویسټ انډیز) ته تللی و.
اولیور په دی خواشیني شو ځکه ده غوښتل چې ښاغلي براون ته د خپلې تښتونی کیسه وکړي او بخښنه تری وغواړي. دری میاشتی هم دغسی تېرې شوې. مېرمن مایلي د اولیور لپاره د لیک ولوست تابیا وکړه، ده ډېر ژر لوست زده کړل او د کتابونو په ولوستلو خپل زیات وخت تېروو.

فیګن سره یوه نااشنا سړي هم لیدلي و چې مونکس نومیدو او له ده یې د اولیور په اړه پوښتنې ګرویږنې کړې وې. خو فیګن خبر نشو چې دا سړی څوک و او ولې یې د یو یتیم ماشوم په اړه پوښتنی کولې. مونکس یوه ورځ د لندن په هغه شراب خانه کی د فیګن سره ولیدل چې نینسي پکی کار کوو. ده ورته د اولیور د مور د ګوتې او د لاکټ خبره وکړه او وی ویل چې دې یو خطرناکه هلک و اوفیګن ته تاوان رسولې شي. هغه ته یې وویل چې یو داسی چل وکړي چې اولیورد تل لپاره بندي شي.

دا ټولې خبری نینسي واوریدې نو هوډ یې وکړو چې مېرمن مایلي ته خبر ورکړي. فیګن په نینسي شک من شوی و اود دې څارنه یې پیل کړه.
یوه ورځ هغه د مېرمن مایلي کور ته ورغله او روز سره یې ولیدل. هغې ته یې د اولیور په اړه د مونکس او د فیګن د بدو ارادو خبر ورکړو. دا د بل سایکس نه په پټه راغلی وه او وېرېده چې که دی خبر شو نو پایلې به ورته ښې نه وي. روز دا هر څه واورېدل نو نینسي ته یې وویل، ته له ما پیسې واخله او له دی غلو بل چرته ولاړه شه. هغی انکار وکړو او وې ویل، زه د سایکس سره مینه لرم او دې یواځې نشم پرېښودې.

څو میاشتې وروسته ښاغلي براون بیرته لندن ته راغلو او یوه ورځ د روز او مایلي سره یې ولېدل. خو هلته د اولیور په شتو حیرانه پاته و چې اوس یې روغتیا ښه شوی وه . براون ده ته په قهر و خو کله چې مایلي ورته ټول حال تېرکړو نو دی راضي شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخوا نوح او شارلټ یوه ورځ د ښاغلي سور بري نه پیسي غلا کړی او تری وتښتیدل. دوي هم لندن ته مخه کړه او راتلو سره د فیګن لاس ته ولوېدل. نوح د نورو هلکانو په شان د غلا او جیب وهلو په کار اخته شو.

یوه ورځ ښاغلي براون سهار د خپل کور مخ ته له اس ګاډي راښکته شو او دوو کسانوچې یو بل سړي ته یې اوږه ورکړې وه، کور ته یې رادننه کړو. دا سړی مونکس و او یوې کوټې ته یې بوتلو. براون دواړو کسانو ته وویل چې بهر دی ودریږي او که مونکس څه شر وکړو نو سمدلاسه یې پولیسو ته ورولي چې زما نه یې غلا کړی ده.

مونکس ورته وویل چې ته خو زما د پلار پخواني ملګرې یې، له ما سره ولې داسی چلند کوی؟ براون ورته وویل، ستا پلار زما ډېر ښه مګرې و نو ځکه تر اوسه مې ته پولیسو ته نه یې سپارلې. بیا یې ده ته اشاره وکړه چې په کرسۍ کښیني او ورته یې وویل، ستا یو ورور هم شته چې ما تش د هغه نوم ستا په غوږ کی واخستو نو د لاری نه راسره تر دی ځایه راتلو ته مجبوره شوی.

د مونکس رنګ ژیړ شو او وې ویل، زه هیڅ ورور نه لرم. براون ورته وویل چې کله د ده د پلاراو مور پخپلو کی ورانه شوه نو پلار به یې زیات وخت د ده (براون) سره تېروو. د ده پلار ورته د خپل ژوند ټول حال ویلو، دا پینځلس کاله پخوانۍ خبره وه، هغه وخت چې مونک د یوولسو کالو ماشوم و. ده سر ټیټ کړو او وې ویل، زه هیڅ خبر نه یم، ما ته مورهیڅ نه دي ویلي. براون وویل، هو... ته وړوکی وې، او په دی خبرو نه پوهیدې خو ما هر څه لیدلي دي. دلته د بحري ځواک یو افسر و چې د هغه لورایګنس ستا د پلار خوښېده.

مونک وویل، دا ما پوری څه اړه لري؟ براون وویل، ستا پلار او مورله یو بل بیل شوی و او له دی وروسته ستا د پلار له ایګنس سره مینه پیدا شوه. له بده مرغه دې ژر په پاریس کی مړ شو او هیڅ وصیت یې نه و نکړو چې په قانوني توګه هغه ایګنس او د دې ماشوم ته څه پریښي و او که نه؟ زه چې خبر شوم او پاریس ته ورپسی ولاړم نو ګاونډیانو راته وویل، چې ستا پلار پور اوړی و. ایګنس د خپل پلارله خوا هم وشړل شوه نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه د هغی هیڅ درک ونه لګېدو. ما ورپسې ډېر لټون وکړو خو وومې نه موندله. بیا پینځلس کاله وروسته د قدرت په معجزه، هغه ماشوم په بد حال زما لاس ته راغلو او ځو ورځې یې په دی کوټه کی تېرې کړې.

مونک وارخطا شو اوپه چیغه یې وویل، دا امکان نه لري، زما پلار بل واده نه وکړی، د ده د ټول جایداد زه وارث یم. بروان ورته وویل، له انکارهیڅ نه جوړیږي. ما په تېرو دوو وونیو کی دومره معلومات راټول کړي دي، چې ستا یو ورور شته او بله دا چې پلار دی یوه وصیت نامه هم لیکلې وه چې ستا مور وسیزله، ځکه چې په هغی کی ستا د کشر ورور لپاره هم معمولي پیسې پرېښودل شوی وې. ستا مور نه غوښتل چې د دې د مړینې نه وروسته هغه ماشوم یا مور ته یې څه ورسیږي. بیا تا هم نه غوښتل چې ورور دی میراث خور شي، نو د هغه د زیږېدو ښار ته ولاړی او خپل ټول وس دی وکړو چې د هغه بې موره ماشوم په اړه هر ثبوت له مینځه یوسی. هغه څو وړی نښې دی سیند ته ورواچولی چې هیڅوک به تری خبر نشي. ته چې د یو شریف پلار زوې یې، د پیسو په حرص کی د غلو او قاتلانو سره کېناستی. د هغوي په شان دی د ورور د بد مرغي لپاره سازشونه جوړکړل او ځان دی دومره ټیټ کړو چې د انسان نوم درنه شرمیږي، واوره ایدورډ لیفورډ...ستا نوم هم دغه دی . ته مونک نه یې.

مونک په چیغه وویل، نه ...نه دا هر څه دروغ دي... ما خو د ورور په اړه معلومات راټولول، خو ته رانه مخکی شوی او زه دی له کوټې راوستلم. زه د مجرمانو سره هیڅ لاس نه لرم. براون ورته وویل، ته به هم دلته پاتې کیږې تر څو ستا د پلار اسناد می نه وي موندلي.

نینسي د مونک او فیګن خبری اورېدلی وی چې د اولیور په اړه وې.
هغی غوښتل چې روز له دی هم خبره کړي خو له کوره نشوه وتلی. روز ته یې د یو ماشوم په خله حال وروواستوو چې د لندن په پل دی ورسره ووینې. فیګن چې له دی خبر شو نو د نینسي د مخ نیوي لپاره یې یو پلان جوړ کړو. سایکس به هر ماښام د فیګن سره شراب څښلو له راتلو. ده نوح پوهه کړی وچې سایکس ته د نینسي په اړه هغه څه ووایي چې ده ورته ویلي و. سایکس چې راغلو نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

فیگن ورته په غم ژن غږ کی وویل، زمونږ دټولو ژوند په خطر کی دي. سایکس تری وپوښتل هغه څنګه نو فیګن نوح ته مخ واړووو او وې ویل، ته پخپله ورته ووایه چې څه دی اوریدلي دي. نوح وویل، زه د لندن پله نه تیرېدم چې هلته مې نینسي ولیده. هغې د دوو کسانو سره خبری کولې. یو سړی و او بله ښځه. سایکس وارخطا شو او پوښتنه یې وکړه، تا ددوي خبری واوریدې؟ نوح وویل، هغوي تری د مونک د کړو وړو پوښتنه کوله او نینسي ورته حال ویلو، بیا دوي زمونږ د ځاې ځایږي تپوسونه کول او دا چې څوک په څه وخت تلل او راتلل. فګین وویل، ووایه چې د تیر اتوار د ورځې په اړه یې څه ویل؟ نوح وویل، هغوي له نینسي وپوښتل چې دا د تیر شوي اتوار په ورځ ولې نه وه راغلې نو هغې ورته وویل چې ما بیل سایکس نه پریږدي او که زه غواړم بهر ولاړه شم نو د ده په مشروب کی اپیم ګډ کړم چې دې ویده شي نو زه بیا له کوره راووځم.

د دې خبری په اورېدو سایکس له قهر لیونی شو، خپله طماچه یې راواخیسته او په پونو یې منډه کړه. فیګن ورپسې ناری کړې چې ودریږه اود ده د ایسارولو هڅه یې وکړه. خو سایکس ورته وویل چې دی به ارو مرو نینسي سره ويني. فیګن ورته په دروازی کی وویل، قهر لږ کم کړه او وهل ټکول به نه کوی. سایکس دروازه پرانسته او بهر ووتلو. هغه ځاې چې نینسي پکی اوسېده له دی کوڅې لږ لیرې و او سایکس د کور د دروازې کنجي هم لرله. دی په قهر هلته ورسېدو نو نینسي په خواږه خوب ویده وه. دسایکس په راتلو هغه راویښه شوه او وی لیدل چې هغه د کوټې دروازه وتړله او یو لوې میز یې ورته کېښودو. دا لا پوهه نه وه چې سایکس ولې ورته په قهر و چې د دې په وهلو یې پیل وکړ. بیا سایکس په ځان پوهه نشو چې څه وختې یې له نینسي لاس واخستو او څه وخت هغه مړه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار فیګن یو هلک د نینسي کور ته ورواستوو خو هغه ورته په منډه بیرته راغلو او وې ویل چې سایکس د نینسي له وژلو وروسته تښتېدلي دې.
پولیس د ښار په لارو کوڅو کی ډنډوره غږولې چې د نینسي قاتل بیل سایکس نومیږي، د ده کړه وړه یې په کاغذونو چاپ کړل او دا پاڼې د ښار په دیوالونو سلیخ کړی شول. د قاتل د نیوونکي لپاره حکومت پنځوس پونډه انعام هم ایښې و. د دې انعام لپاره د ښار خوشی او اوزګار خلک راووتل اوپه ډلو کی یو خوا بل خوا د سایکس لټون یې پېل کړو.
سایکس چې په منډه او یو ځاې بل ځاې پټېدو، اخر د فیګن ځاې ته بیرته راغلو. په لاره ځینو کسانو دی ولیدو نو د فیګن له ډېرې نه راچاپیره شول.
دننه ټول هلکان بند و او فیګن ورته د خاموشه اوسېدو امرکړی و. سایکس چې رادننه شو نو یو هلک له کړکۍ ولیدل چې بهر ډېر خلک او پولیس ولاړ و. ده هلکانو ته طماچه نیولي وه چې هیڅوک دی د تښتېدو هڅه ونکړي او پخپله بام ته وختلو. خو یو هلک زړه وکړو او له یوې وړې کړکۍ یې بهر خلکو ته چیغه کړه چې دوي دی وژغوري. سایکس هغه وخت د بام په سر ولاړ و او ښکته په کوڅه کی یو معتبر سړي د هغه په لیدو ناره کړه چې که هر چا سایکس ژوندی ونیولو نو دی به ورته له خپله جیبه پنځوس پونډه نغدی ورکوي. څو ځوانان وړاندی شول او له بهره یې پر بام د ورختلو هڅه وکړه. سایکس د یو پړي سره بل کور ته د وردانګلو هڅه وکړه خو هم دا پړی یې په غاړه کی تاو شو او دې زندۍ له بامه راځوړند شو. د فیګن د کور دروازه ماته کړی شوه او خلکو پری چپاو وکړو. نږدی وه چې فیګن هم د خلکو له لاسه وژل شوی وې. چې د پولیسو لاس ته ورغلو او دی یې د ټو لو هلکانو سره یو ځاې تانې ته بوتلو.

ښاغلی براون د اولیور د پلار ملګرې پاتې شوی و او د ده مشر ورور ایډورډ چې د مونک په نوم یې ځان ورپیژندلو، خپل کور کی کېنولې و او پوښتنی یې تری کولی چې د مړینې پر وخت د ده پلارڅه ورته پریښي و؟ مونک وویل چې پلار یې د خپلې دویمې مېرمنې ایګنس لپاره یو لیک او وصیت یې په لیکلي بڼه پریښي و چې څو کاله د مخه د ده مورسیزلي و. براون د پلار د وصیت په اړه تری وپوښتل. چې په هغی کی څه لیکلي و نو خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو چې په وصیت کې د ده د جایداد لږه برخه، د ایګنس او د هغې نازېږېدلي ماشوم په نوم لیکل شوی و. براون پوهه شو چې مونک ولې د اولیور پسې رااخستې وه او نه یې غوښتل چې هغه ژوندی پاتې شوی وې.

یوه ورځ مېرمن مایلي د براون له خوا وروغوښتل شوه او اولیور ته یې وویل چې د ده مشر ورور موندل شوی دی او ماځیګر به د ښاغلي براون او ډاکټر سره ددوي کور ته راشي. کله چې مېرمن مایلي بیرته کور ته راغله نو اولیور او روز ولیدل چې د هغې سترګې په ژړا سرې وې. دا خپلې کوټې ته ولاړه او دواړو تردېره وخته انتظار کوو چې له هغې د ژړا سبب معلوم کړي خو هغه رانغله. کله چې ښاغلې براون، ډاکټر او یو بل کس د میلمنو کوټې ته راننوتل نو اولیورهڅ ووهلو چې بل سړی به د ده ورور وي خو د هغه په لیدو بیا هم حیرانه پاته شو.

ده یو واری له کوڅې لیدلي و چې دی سړي د هغه د کوټې کړکۍ چې بهر ته وه، دننه کتل راکتل. اولیور هغه وخت ورته ځان ښکاره نکړو خو داسې هڅ یې وهلو چې هغه سړی په بد نیت ورته ولاړ و. اوس هم هغه اولیور ته بد بد کتل او روغبړ یې ورسره ونکړو. ښاغلي براون په لاس کې اسناد نیولي و چې پر یو میز یې کیښودل. بیا یې مونک ته وویل چې د خپل پلار د وصیت په اړه د ټولو په وړاندی خبره وکړي. ده زړه نا زړه د وصیت ټکي ټولو ته وویل نو براون تری وپوښتل، کله چې ستا د پلار دوېمه ښځه مړه کیده نو د هغې په غاړه کې یو لاکټ او په لاس یې یوه ګوته وه، هغه څه شول. مونک خپل ځان پری ناپوهه وښودولونو براون یو خدمت ګار ته اشاره وکړه چې په بله کوټه کې ناست ښځه او مېړه ورته راولي. دوي چې کوټې ته راغلل نوپه اولیور له ویرې خولې راماتې شوې. هلته بمبل او د یتیم خانې مشره ولاړ و. ښاغلي براون ورته وویل چې که ریښتیا یې وونه ویل نو پولیسو ته به یې وسپاري.

دوي د مونک له خوا دوي ته د ګواښولو او د ګوتې او د لاکټ په سیند کې د غورځولو کیسه تېره کړه نو د اولیور په سترګو کې اوښکې راغلی. بمبل

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مېرمنه يې له هغه ځايه رخصت شول نو ښاغلي براون له مونک وپوښتل، د بحري خواک د هغه افسر دوه لوڼې وې چې يوه يې له ايگنس ډېره کشره وه، ته خبر يې چې هغه وړه خور يې څه شوه؟ مونک وويل، هغه ما تر ډېرې مودې ونه ليده خو اوس دا دی ستا څنگ ته ناسته ده. هغه روز ته اشاره وکړه نو اوليورهک پک پاتې شو. روز د ده سکه ترور وه ، په دی خبر هغه له خوشالۍ په ټوپونو شو. ښاِغلي براون اوليور ته وويل چې مشر ورور يې يو مجرم و او داسی مجرم د پلار په ميراث کی حق نه لري، خو ته دی ورور ته خپل حق ورکړه چې د يونيک انسان په توگه ژوند وکړی شي. هغه په خوشالۍ ورته نيمه برخه وليکله اومونک امريکه کی د ژوند کولو لپاره روان شو.

په بله ورځ اوليور خبر شو چې محکمې فيگن ته د مرگ سزا ورکړی وه او د ده د غرغره کېدو ورځ هم ټاکل شوی وه. ده غوښتل چې په وروستي ځل د فيگن ليدو ته ورشي نو ښاغلي براون له ځانه سره بوتلو. د بندي خانې په يو تياره کوټه کی فيگن د يو ديوال سره ولاړ و او د رڼا لوري ته يې کتل. دواړه محافظان يو خوا ته ودرېدل او براون د اوليور سره ورنږدې شو.

د بندي خانی په دروازه يو پوليس له براون پوښتنه وکړه

پوليس. تاسو د بندي سره د ليدو اجازه راوښايئ.

براون . دا دې وگوره .

پوليس. دا ماشوم هم له تاسو سره ځي؟ ماشومانو لپاره د دې بندي کتل مناسب نه دي.

براون. ستا خبره سمه ده خو زه د دې ماشوم لپاره ورسره راغلې يم. دا سړی د ده مجرم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پولیس. ( دروازه خلاصوي) د دې دروازې نه بنې لاس ته په کوټه کی ستاسو کس ناست دې.

فیگن. ( ځان سره خبری کوي) شابسې چارلي. ډېر ښه...ډېر ښه...اولیور خو اوس لوی سړی ښکاري...هله شابه ژر کټ ته یې ورسوئ چې خوبولی دی.

محافظ. فیگن...ستا ملاقات له خلک راغلي دي.

فیگن. هو ..فیگن زما نوم دی. څوک دي؟

محافظ. دا دوه کسان له تا څو پوښتنې لري. فیگن..راویښ شه.

فیگن. زه ویښ یم.... خو ډېر ژر به په ابدي خوب ویده شم. دا سړی څوک دی؟

براون. زه د مونک په اړه درنه پوښتنه لرم. هغه تا ته څو کاغذونه درکړي و؟

فیگن. دا دروغ دي. ما سره هیڅ هم نشته. اولیور...رانږدی شه چې په غوږ کی درته یوه خبره وکړم.

اولیور. زه اوس له ده نه ویرېږم. وایه څه راته وایې؟

فیگن. ( په ورو غږ) هغه کاغذونه په یو خلته کی دي او خلته د کوټې د بخاري خوا ته د خښتې لاندې ایښې ده. اولیور...زه خبر یم چې ما درسره بد کړي دي، خو ما له دی ځایه وباسه...که دا نشې کولې نو دعا راته وکړه...

اولیور. ( په ژړا) خدایه ته دا سپین ږیرې وبخښې...

فیگن اولیور ځان ته رانږدی کړو او ورته یې زاری پیل کړې چې دی له مرگ نه وژغوري. هغه اولیور ځان سره کلک و نیولو او په ژړا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو. یو محافظ را وړاندی شو اوماشوم یې د فیګن نه جلا کړو. ښاغلي براون د اولیور په سر لاس کېښودو او دی یې له هغه ځایه راوویستلو. اولیور تردېره وخته د فیګن غږ اورېدو چې د بخښنې لپاره یې زاری کولې.

دری میاشتې تېرې شوې او په دی موده کی روز د خپل چنغول هېري ته واده شوه. مېرمنې مایلي د خپل زوې او امږور سره ژوند پېل کړو. ښاغلي براون اولیور د زوې په توګه خپل قانوني وارث کړو. نوح ته د پولیسو له خوا د کار تربیه ورکړی شوه او هم هلته یې د دوي لپاره کار پېل کړو. بمبل د کلیسا له وظیفې وشړل شو اود خپلی مېرمنې سره په هم هغه کارخانه کی کار کولو ته اړ شو چې پکی به یې ماشومان وهل ټکول.

او د هغی ښار په هدیره کی د یو زوړ قبر د پاسه د شناخت ډبره ودرول شوه چې وربانديې د ایګنس نوم لیکلې و.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**